آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۷/۲۳

# د «کک او زرینه»

# د هرکلي په پار



زما د ګران دوست، زما د خوښې وړ شاعر او قلموال، ښاغلي غفور لېوال د نوې منظومې «کک او زرینه» ښکالو اوریدل کیږي. د لویې نیکمرغۍ ځای دی چې د لیوال صاحب د «کک او زرینه» په خپریدو سره به له یوې خوا د پښتو شعر خزانه بډایږي او له بلې خوا د هیواد د تاریخ په دې حساسو شیبو کې چې ښکاره دوښمن موږ ته خپل طبعي حق هم نه راپریږدي، لیوال داسې یو تاریخي واقعیت، د هنر په مټ او د شعر په ژبه  د درنو هیواد والو مخې ته ږدي.

زه همدا اوس، د همدې کرښو په وسیله د «کک او زرینه» د بشپړیدو او خپریدو مبارکي لومړی لیوال صاحب ته او بیا د پښتو ادب او افغانستان ټولو خواخوږو او مینه والو ته وړاندې کوم.

ما له دې نه مخکې د ښاغلي لیوال دوې نورې منظومې «هوسۍ» او «لام او ایلینو» لیدلي او په خورا مینه او دقت مې یو ځل نه، څو، څو ځلې لوستې هم دي.

د ۲۰۱۷ کال د جولای په شلمه مې د فیسبوک پر پاڼو ولوستل چې «کک او زرینه» هم د بشپړیدو پړاو ته ور نږدې ده. دا زیری ښاغلي لیوال په دې تورو سره موږ ته را ورساوه:

«چې د تاریخ په روایت مو نیکونو ښڅګه د هیرمند اوبه ساتلې او د ګاونډیو په وړاندې یې د دغه سیند ساتنه کوله، تاسو به یې د (کک او زرینه) یا ساکستان په منظومه کې ډېر ژر ولولئ (ان شاالله).
د دې منظومې لس سلنه کار پاتې او نور مې بشپړ کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ساکي پرتم په ځپو کي ورځ په ورځ ډوبيږم او په حيرانتيا، حسرت او افسوس ګورم، چي زموږ نيکونه تر موږ هوښيار وو، هغوی تر موږ ډېر زموږ د روانو اوبو پر اهميت او ارزښت پوهېدل. د ساکانو اووه ـ سره دوښمني خپلخاني ـ د هيرمند د اوبو ساتني په پار، سره يوځای شوي او په خپلو کي يي مرګ ژوبله پربښوده.
خو، ولي موږ، اوس، د خِـرد په دې زمانه کي دومره هوښيار او مېړني نه يو؟»

او يوه ورځ وروسته (۲۰۱۷ کال د جولای يوويشتمه) يي بيا **داسي** وليکل:

«... او منظومه بشپړه شوه، تر دې وروسته يي پوښتنه له خپرونکي (ناشر) ښخه کوئ،
دا يي هم د پای ځو کرښي:

**...سمند ځي په منده، منده تر هيرمنده**

**چي د عشق نوی داستان ورته بيان کړي**

**په خوږو ځپو ماړه دوه مينان کړي**

**هيرمند مست دی، هيرمند غاړي، غاړي غورځي**

**هيرمند خپلو مېلمنو ته لاري ښاري**

**هيرمند تږی دی، چي راشي دوه مينه**

**د ځپو تندي يي کيږدي پر لمنه**

**پېری وشوې چي هيرمند ځپي، ځپي دی**

**مست، سرکښه ، ډک له شوره، له هيبته**

**سيند د کک ـ زريني عشق ته سلامي دی**

**له هغه وخته تر ننه لا جاري دی.»**

او په داسي يوه حساسه شيبه کي دا کار کيدونکی دی چي دوښمن غواړي ټول هيرمند ونغري، تر ستوني يي تير کړي او کوربانه په ټکنده سره غرمه کي تږي پريږدي. سره له دې چي په شاعر امر کول او يا دستور او فرمايش ورکول نا سم کار دی، خو زه له ښاغلي ليوال نه عاجزانه هيله کوم:

هر څومره چي ژر کيدای شي دا منظومه دي چاپ او تر لوستونکو پوري ورسوي.

ما په فيسبوک کي د دې خبر په کامنټ کي غوښتل چي دوې جملي وليکم، ومي هم ليکلې، خو په تيروتني سره دا دوې جملي را نه جلا، جلا پوست شوې. هغه دوې جملي دا دي:

چي بيا يو ليک ليکم نو کله به وي،
اوس به يي نه ليکم په زړه مي دې وي

خو لږ شيبه وروسته مي دا ليک هم په نثر وليکه او هم مي د شعر په ژبه. لومړی يي نثر او وروسته به يي شعر تاسو درنو لوستونکو سره شريک کړم:

فکر کوم تاسو د ښامار پر سبک روان ياست، تاسو مو له فکر او قلم نه د نوي زماني ښامار جوړ کړئ، داسي ښامار چي خلک او وطن د خپلي خولي د ځانځانی په اور ونه سيځي، بلکي د خپلي خولي اور د دښمن پر لور ور سم کړي او د «هوسی» آزادي وساتي، د «لام او ايلينو» بلورستان وژغوري او ساکستان وژغوري، افغانستان وژغوري!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

**تـــه آزادي د يـــو انـــســـان وژغـــوره**
**لام، ايـلـيـنـو بـلـورسـتـــان وژغـوره**

**مـتـې دي بـډ وهـه تـکـړه شـه ور تـه**
**ساکان، هيرمند او ساکستان وژغوره**

پرينږدي چي د ساکستان ويني او اوبه د دبنمن ستونی لوند کړي.

دا مي هم شعر:

**ته يو ليوال د اسطورو، د شعر**

**تا د هوسی ساء، قدمونه انځور**

**بيا په قلم دې تيره و توږله**

**د سنگتراش ځيره دې وايستله**

**لام ايلينو دې په کي ودرول**

**وچو دېرو کي دې وخوځول**

**زما له لام نه ايلينو خوښه ده**

**له ايلينو نه مي لام نور هم خوښ دی**

**اوس دې د «کک، زريني» لار ځارمه**

**سترگی په لار يمه او پيار ځارمه**

**چي بيا يو ليک ليکم نو کله به وي**

**اوس به يې ليکم چي په زړه مي نه وي**

**او تا نه هيله مي همدومره ده بس:**

**صرفه ونه کړې په هيڅ څه او خپل وس**

**خلک را پورته کړه پارسيانو مخ ته**

**د دوی او نورو دبنمنانو مخ ته!**

۲۰۱۷/۰۷/۲۱
هيدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ